**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمالونو څانګه**

د متحدالمال ګڼه: ۷

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۲۵ هـ ق

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو د محترمو ریاستونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۲/۵/۱۲ هـ ش سره سمون خوري، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "حقاني" صاحب تر ریاست لاندې د عالي شورا د محترمو غړو، د مرکزي دیوانونو د رئیسانو، د سترې محکمې د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په ګډون جلسه تشکیل دایره شوه او د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټې د (۳) ګڼه تصویب پر بنسټ د ځینو موضوعاتو په اړه فیصله وشوه ترڅو د اسلامي امارت له محترم عالي مقام سره شریک شي. په همدې بنسټ، نوموړي موضوعات د اسلامي امارت له محترم عالي مقام سره شریک شوچې دریمه موضوع یې د بهرنیو وکالت خطونو د ترتیب د طریقې په برخه کې د دارالافتاء ریاست د فتوای په اړه وه چې په یاده فتوای کې د خارجي وکالت خط د ترتیب په اړه (۳) طریقې ذکر شوې دي چې د محترم عالي مقام له لورې په دې اړه داسې فیصله صادره شوه:

((د دارالافتاء ریاست دې یادې مسئلې ته لیدنه وکړي (هغه وکالت خط چې سفیر یا قونسل ته د قضایي صلاحیت په لېږدولو سره، له هېواده دباندې ترتیب شوی وي، شرعاً په محکمو کې اعتبار لري یا نه؟)

د نوموړې فتوای دویمه بڼه: که مدعي علیه د قاضي پر وړاندې د وکیل په وکالت اقرار وکړي،

یا هم د وکیل د وکالت له دعوی وروسته، شاهدان په محکمه کې د مؤکل له لورې د وکیل په وکالت شاهدي ورکړي، په دواړو صورتونو کې د محکمو لخوا د وکالت خط ترتیبول کومه شرعي ستونزه نه لري.))

له همدې کبله، د پورته ذکر شوې غوندې د دریمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام فیصله د یاد متحدالمال له لارې د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو محترمو ریاستونو، دیوانونو او مرافعه او ابتدائیه محکمو ته ولېږل شوه ترڅو د هغه په رڼا کې شرعي او اصولي اجراآت ترسره کړي.

یادداښت: د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست پورته ذکر شوې فتوای په (۵) ورقو کې د یاد متحدالمال سره یوځی ځا ی ټولو محکمو ته لېږل کېږي.

**په درنښت**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د ستري محکمې**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ.